د کور جوړولو په برخه کې د هېواد د ملي سوداګر ښاغلي زید حیدري په ګډون له نورو پانګوالو سره په بېلابېلو برخو کې د خصوصي سکټور په همکارۍ د ۲۰۰۰ کور جوړولو د پیروزي پروژې په اړه خبرې وشوې او وویل شول. چې ۲۰۰۰ کورونه غواړي د اوږدمهاله قسطونو په بدل کې د بې کوره هیوادوالو لپاره د پور په ډول جوړ کړي.

ښاغلي نعماني هم له یو بل سوداګر سره خبرې وکړې، د کور جوړولو په برخه کې یې د پانګونې هرکلی وکړ او هیله یې څرګنده کړه چې په کابل او ولایتونو کې با کیفیته او ارزانه کورونه جوړ کړو.

د ښار جوړولو  او ځمکو وزارت د خصوصي سکټور د جلب او ملاتړ او د کور جوړولو پ پروژو کې د پانګونې د زمینې د برابرولو په موخه په بېلابېلو سکټورونو کې له کوچنیو فابریکو سره په تماس کې دی، څو د کوچنیو فابریکو خاوندان هم په کمه سرمایه برخه واخلي.





# خصوصیات خرید یک آپارتمان خوب چیست؟

سید عثمان سادات

در زمان خرید آپارتمان خوب باید آگاهی ها کامل را داشته باشیم. تا مشکلی بعد از قرار داد و تحویل گیری آپارتمان بروز ننموده و باعث رنجش خاطر ما نگردد. نیاز است، تا در مورد ساختمان، امکانات ملکیت مشاع و امکانات داخلی آپارتمان معلومات مفیدی را بدست آورد و به آن توجه جدی مبذول داشت.

گام اول در خرید آپارتمان:

۱. اکتفا نکردن به توضیحات و تشریحات صاحب ملکیت و دفتر های رهنمای معاملات، در مورد خصوصیات آپارتمان. تلاش باید بخرچ داد، تا شخصاً تحقیقات محلی در مورد محل انجام داد. ممکن اولین و مهمترین اقدام به ویژگی های خرید یک آپارتمان خوب این باشد که ساختمان از لحاظ ایمنی در برابر مخاطرات و حوادث طبیعی درست سنجیده شده باشد. بگونه مثال:

محل احداث و موقعیت آن، حصول اطمینان که ساختمان بر روی ساحات رود خانه، جبه زار و سیلبر های قدیمی و فصلی احداث نشده باشد. پایه های ساختمان در برابر نشست زمین مقاوم باشند، مصارف مراقبت و نگهداری، توجه به زیبایی، توجه به طرح داخلی مناسب، نورگیری بودن و .....

۲. حصول اطمینان از مواردیکه توسط فروشنده ذکر میشود. اسناد تخنیکی که آزمایشگاه تست مواد ساختمان بکار برده شده را بررسی کرد. مشاهده و کنترول نقشه نما های ساختمان از حیث زیبایی و تناسب آن با محیط و اقلیم و از نظر ایمنی و حفاظتی هم میتواند جزو قدم های نخست برای خرید و یا اجاره یک آپارتمان محسوب گردد.

۳. در صورتیکه مواد مصرفی و انواع آنرا با نحوه استفاده آن، در یک ساختمان ساخته شده نتوان بررسی و ارزیابی کرد. پس شیوه و روش را بکار برد که معلومات بدست آمده از مالک آپارتمان را با یک کار شناس مسلکی در میان گذاشت و نباید به گفته های مالک زیاد اعتماد نمود.

گام دوم در خرید آپارتمان:

نکته مهمی را که هنگام خرید آپارتمان باید بدانید این است، که در مورد ساختمان‌هایی که در حین ساخت هستند می‌توان با کمک یک مشاور، موارد مدنظر را صحت سنجی کرد. برای مثال در ساختمان های آهنکانکریتی، قطر سیخ های استفاده شده در کانکریت و نوع کانکریت بسیار تعیین‌کننده است یا در ساختمانهای فولادی، نوع اتصالات و مهاربندی این اتصالات است که اهمیت دارد.

بررسی قابلیت‌ها و امکانات ساختمان:

اگر با مجموعه ویژگی‌های ساختمان از لحاظ ایمنی و زیبایی و ... مشکلی نداشتید حال باید در ادامه بررسی ویژگی های خرید یک آپارتمان خوب به موارد جزئی‌تر بپردازید. در ادامه به برخی از موارد که جزو ویژگی آپارتمان های رهایشی است و شما در هنگام خرید آپارتمان آن‌ها را فراموش کنید. ذیلاً به آن اشاره می‌کنیم.

- در زمان خرید یک واحد مسکونی باید بدانید که علاوه بر مبلغ قابل پرداخت برای خرید ملکیت، شما باید هزینه های دیگری مانند مصارف مالیات، پایان کار، کمیسیون دفتر معلومات املاک، هزینه دفتر ثبت سند و دفتر ثبت اسناد را نیز پرداخت کنید.
- قبل از امضای اسناد تمام ماده‌ها و تبصره های موجود در متن قرارداد را دقیق مطالعه کنید.
- نوع کاربری ملکیت را در اصل سند و اسناد مربوط چک کنید، که حتماً مسکونی درج شده باشد.
- نقشه مهندسی ساختمان را بررسی و با کمک یک مشاور آن را چک کنید، که ارتباط صحیح بین اجزا و بخش‌های مختلف ساختمان طبق نقشه انجام شده باشد.
- تا حد امکان سعی کنید املاکی که بیش از چهار طبقه هستند و لفت ندارند را انتخاب نکنید. تا در زمان رفت و آمد از زینه مشکلی نداشته باشید، چه در طبقات پایین باشید، ممکن است همسایگان یا مهمانان شما با این قضیه مشکل داشته باشند.
- نمای ساختمان اولین چیزی است که از منزل شما دیده می‌شود پس زیبایی و دوام آن نکته مهمی است. در تزیین نما باید از مصالح و سنگ‌هایی استفاده شده باشد که نظافت و تمیز نگهداشتن آن ساده و کم مصرف باشد.





- در مورد ورودی ساختمان داشتن عرض استاندارد بسیار مهم است. در واقع باید بیش از ۱۱۰ سانتیمتر باشد. به این نکته در هنگام خرید آپارتمان دقت کنید.
- زینه ها نیز باید حداقل عرض ۹۰ سانتیمتر را داشته باشند.
- در مورد زینه ها دقت داشته باشید که هر زینه حداقل باید ۳۰ سانتی متر عرض و ۱۸ سانتی‌متر ارتفاع داشته باشد؛ و رعایت این استانداردها به‌خصوص برای عبور و مرور کودکان و سالمندان بسیار حائز اهمیت است. همچنین باید بدانید که در ساختمان های بیش از ۴ طبقه، باید از لفت استفاده شود.
- بررسی و اطمینان حاصل کردن از عدم اتلاف انرژی در ساختمان بسیار مهم است، این موضوع در درازمدت هزینه‌های زیادی را بر شما تحمیل خواهد کرد.
- ضد صوت بودن یا پیش‌بینی موارد کاهش ورود صوت به درون باید از ویژگی خانه های آپارتمانی باشد. مطمئن شدن از این موضوع که ساختمان عایق صوت است و صدا از محیط بیرون به داخل وارد نمی‌شود و صدا از واحدی به واحد دیگر منتقل نمی‌شود، مهم است.
- ورودی و خروجی پارکینگ نیز اهمیت دارد و احتمال یخ زدگی آن در فصول سرد سال باید مورد توجه قرار بگیرد.
- توجه به این نکته که در طراحی، ساخت و استفاده ساختمان به مسائل محیط زیست توجه شده باشد و تا حد امکان از آلودگی زیست محیطی جلوگیری شود. برای مثال در برج‌ها برای سیستم دفع زباله از شوتینگ استفاده شود.
- مطمئن شدن از اجرای درست عایق کاری رطوبتی و حرارتی در ساختمان، اطمینان حاصل کردن از سیستم ایمنی در مقابل آتش‌سوزی، چک کردن وسایل اطفاییوی حریق مانند تجهزات ضد حریق و نصب کپسول آتش نشانی.

- بررسی کردن چگونگی نصب و کیفیت دروازه های ورودی و خروجی ساختمان.
- مطمئن شدن از وجود زینه فرار و راه های خروجی سریع و ایمن.
- در مورد پارکینگ هم باید دقت کرد که فضای پارک هر واحد برای دیگر واحدها مزاحمتی ایجاد نکند و ورود و خروج به پارکینگ به آسانی انجام شود.
- چگونگی و کیفیت امور گاز کشی درون ساختمان و فشار آن را چک کنید.
- کیفیت و چگونگی شبکه آب در درون بنا و کیفیت آب مصرفی ساختمان و محله را بررسی کنید. بهتر است که سیستم آبرسانی و فاضلاب ساختمان از جنس پولیکای فشار قوی و یا چدن باشد.
- بررسی کیفیت امور لین های برق، فشار برق و میزان روشنایی حاصل از برق رسانی بررسی شود.
- مطمئن شدن از رعایت نکات ایمنی در تامین تقسیمات آب، گاز و برق ساختمان را فراموش نکنید.
- بهتر است که در ساعت‌های مختلف شبانه روز از واحد مسکونی بازدید کنید تا میزان نورگیری و عوامل محیطی دیگر را درست بسنجید.
- داشتن انبار یا ذخیره گاه برای هر آپارتمان جزو ضروریات است.
- بهتر است ساختمان (بلاک) ایکه برای سکونت انتخاب می‌کنید حداقل و حداکثر بین ۱۵ تا ۳۰ واحد داشته باشد. تعداد کمتر از این مقدار مدیریت دشواری خواهد داشت و تعداد بیش از ۳۰ واحد هم باعث ازدحام راهروها و طبقات می‌شود.
- تعداد واحد در هر طبقه هم اهمیت دارد. بهترین حالت این است که در هر طبقه دو واحد باشد و اگر تعداد بیشتر از دو واحد است، هر واحد راهرو مختص به خودش را داشته باشد.
- چک کردن سیستم گرمکن و سرد کن ساختمان بسیار اهمیت دارد. بازدید از موتورخانه و رادیاتور خانه را فراموش نکنید. موتورخانه حتماً باید پنجره و تهویه داشته باشد و سیستم اعلام حریق در آن نصب شده باشد. استفاده از سیستم پیشرفته تر گرم کننده و سرد کننده در دراز مدت به نفع شما است.
- اگر به سروصدا حساس هستید طبقه همکف و اول را انتخاب نکنید. دود و سروصدای ماشین‌ها در پارکینگ شما را آزار خواهد داد.
- در ساختمان‌های مرتفع سعی کنید به طبقات بالا بروید. با این کار از آلودگی و سروصدای پارکینگ دور هستید و هم منظره زیباتری را مشاهده خواهید کرد. البته در نظر داشته باشید به طبقه آخر نروید. نزدیکی به پشت بام باز هم ایراد سروصدای رفت وآمد همسایگان به پشت بام را دارد و هم این مشکل را دارد که در مواقع اضطرار خروج از ساختمان زمان بیشتری از شما خواهد گرفت.

ویژگی‌های مطلوب درون آپارتمان:

- هنگام خرید آپارتمان ابتدا به جنس کف پوش‌ها توجه داشته باشید و از کیفیت آن‌ها مطمئن شوید. همچنین به جنس پوشش دیوارها دقت کنید. اگر رنگ یا کاغذ دیواری استفاده شده برای دیوارها قابل شستشو باشد از لحاظ زمان و هزینه نظافت و رنگ آمیزی بسیار به شما کمک خواهد کرد.
- داشتن بالکن برای هر خانه یک نکته مثبت است و به خصوص برای واحدهایی که در طبقات بالاتر هستند.
- نورگیر بودن آشپزخانه و اتاق نشیمن در اولویت است و اولویت بعدی اتاق‌خواب‌ها هستند. در ضمن حتماً باید در آشپزخانه نورگیر تعبیه شده باشد. همچنین بهتر است جنس کابینت‌های آشپزخانه از ام دی اف باشد. هم به دلیل زیبایی و هم به دلیل دوام خوبی که این نوع از کابینت‌ها دارند.

# په ښار جوړولو او ځمکو وزارت کې د قبالو د تنظیم او ویش غوره بهیر

سیداحمدشاه حکیمزی

دا چې په ۱۲۸۰ه ش کال کې د وخت حکومت په افغانستان کې د مالیاتو د راټولو په موخه د ځمکو اداره جوړه کړه، د دې ادارې اصلي تمرکز د مالیاتو پر راټولولو و، چې هغه وخت اکثره ځمکې د اشرافو یا فیوډالو په لاس کې وې.

معمولاً په هغه زمانه کې د فیوډالیزم سیستم مروج و، فیوډالیزم اصطلاح په یو لوی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز جوړښت باندې اطلاق کیږي، د دې سیستم ځانګړتیا دا وه، چې د هیواد ټوله اراضي پراخې ځمکې به د املاکو په نوم د یوه اشراف په واک او اختیار کې وې، چې دا اشراف به د فیوډال په نوم بلل کېدل، ځمکې به د پاچا له خوا اشرافو ته ورکول کېدې او دوی به بیا په کمې ګټې بزګر ته په اجاره ورکولې. اشرافو یا فیوډالو به د خپل رعیت په مقابل کې هم یو ډول تعهد درلود یعني په خپله املاکي حوزه کې به یې خپل رعیت له هر ډول بهرنیو خطرونو او ګواښونو څخه ساتل.

په ۱۳۳۹ کال کې د وخت حکومت د مالیاتو د تعرفو د بهتروالي په موخه د عوایدو د راټولولو لپاره اصولنامه ترتیب کړه، چې د دې اصولنامې په اساس به ما زاد ځمکې ثبتېدې او لدې لاره به دولت یوه اندازه عواید راټولول.

په ۱۳۴۳ کال کې اولین دفتر چې د ځمکو د ثبت لپاره به یې په ډیر دقت کار کولو، هغه د املاکو او کدستر ریاستونه وو، یاد شوي دفترونه د مالیې وزارت او کورنیو چارو وزارت پورې اړوند وو.

په ۱۳۵۳ کال کې د کدستر ریاست د مالیې وزارت څخه جدا او په کارتوګرافي او جیودیزي په لوی ریاست پورې وتړل شو، نو د املاکو اداري مستقیماً د ځمکو نقشې ته رسیدنه، نه شوای کولی.

همدارنګه د ۱۳۵۴ کال د مخه د اظهار لیک چاپي پاڼې د اشخاصو د ځمکه لرونکو د ساحې یا قطعاتو د ثبت د کمیت او کیفیت د تثبیت او د مالیې د تثبت په منظور وویشل شوې، د اظهار لیک فورمه د ملکیت سند نه شي ګڼل کېدای او یوازې د مالیې د راټولو لپاره له هغه څخه استفاده کیدله.

بدبختانه د ۱۳۵۷هجري شمسي کال د ثور د میاشتې کودتاه هرڅه ګډوډ او له منځه یوړل، نه یوازې دا چې د ځمکو څخه د مالیاتو د راټولولو پروسه په ټپه ودردیده، بلکې افغانستان د روسانو او امریکایانو د تیري او تجاوز له امله د جنګ او جګړې ډګر وګرځید.

په خواشینې سره پردی تېل شوې اوږدې جګړې زموږ هېوادوال ډیر وزورول او د ژوند په هره برخه کې یې له زیاتو ستونزو او کړاونو سره مخامخ کړل، پدې اوږدې اوغم لړلې موده کې هیچا پدې وطن او خلکو زړه سوی ونه کړ، د مظلومیت اوښکې یې ورپاکې نه کړې، لاس یې پر سر ور تېر نه کړ او پدې مظلوم ولس داسې پیښې راغلې چې تاریخ یې له یادولو ډډه کوي.

دغه راز یادونه کوو، چې په تېرو څلور لسیزو کې نه یوازې افغانانو مالي او ځاني زیانونه ولیدل بلکې د زورواکو له خوا یې یو تعداد ځمکې هم غصب او لوټې ودانۍ او ښارګوټي یې پرې جوړ کړل.

ځینو یې د پیسو په زور په محاکمو کې په غصب شوو ځکمو په یو او بل نوم د

شرعي اسنادو د جوړولو په لټه او هڅه کې هم شول.

د يادو ستونزو او مشكلاتو د حل په موخه د شخصي او دولتي ځمكو د تفكيك لپاره (۲۵۰) ۱۳۹۶/۱۲/۱۴ د تقنيني فرمان د ځمكو د چارو د تنظيم قانون (۱۰۷) مه ماده داسې حكم كوي:

د اراضۍ اداري ته د قبالې د ثبت او اجراء پړاونه د هيواد په كچه له ستري محكمې څخه د اراضۍ اداري ته د قبالو د اجراء او ثبت د مسوليت تدريجي ليږد پړاونه د هغه پرتوكول پربنسټ چې د دي قانون د نافذېدو څخه وروسته د دواړو خواوو په منځ كې عملآ پرتوكول لاسليك شو. پدې اساس به له يوې خوا شخصي ځمكو ته شرعي اسناد وركړى شي او له بلې خوا به د دولت عوايد لوړشي.

د مخكيني حكومت د هدايت په اساس په هرات، كابل او بلخ ولايتونو كې د قبالې د ثبت او اجراء چارې عملآ پيل شوې او دغه راز په كندهار، ننگرهار، پكتيا او په نور ولايتونو كې هم له محاكمو څخه د انتقال پروسه په پلان كې نيول شوې وه.

دا چې د افغانستان اسلامي امارت په راتلو سره د قباله جاتو د ثبت او اجراء دفترونه تر امر ثاني پورې بند شول، خو بيا هم د تېر كال د يادو دريو ولايتونو څخه د ټيليفوني گزارش په اساس د سل ميليونو افغانيو څخه زيات عوايد د افغانستان ملي بانک ته جمع شويدي.

كه د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه د قبالو د ثبت او اجرا لپاره د ۱۴۰۱ كال د پلان مطابق هدايت وركړي، پدې سره به د اټكل له مخې افغانستان كې د عوايدو كچه تر يوملیارد افغانيو هم لوړه شي چې له يوې خوا به افغانستان نورو هېوادونو ته د لاس غځولو څخه تر يو بريده خلاص شي او له بلې خوا به ډيره اندازه د افغانستان اسلامي امارت په خپلو عوايدو متكي شي.




لمړی جز- د وثايقو ډولونه په لاندې توگه د بحث لاندې نيسو:

۱: بات بيعي قباله (قباله قطعي) ۲- د جايزې بيعي قباله (قباله جايزى) ۳- د جايزې قبالې رسيد ۴- د حسنه قرض حجت ۵- د دين (پور) حجت ٦- د حجت رسيد ۷- د تمليک ليک ۸ – ويش ليک ۹- اجاره ليک ۱۰- اصلاح ليک ۱۱- ابراء ليک ۱۲- قرارداد ضمانت ۱۳- خلع ليک ۱۴- طلاق ليک ۱۵- وكالت بالاقرار ۱٦- وكالت بالشهود ۱۷- نفقه ليک ۱۸- ضمانت ليک ۱۹ وصيت ليک ۲۰ – اقرار ليک

د ذكرشوو قبالو څخه يوازينۍ لاندې دوه ډوله قبالې چې د ښار جوړولو او ځمكو وزارت ته انتقال شوي مختصراً تر بحث لاندې نيسو:

۱- بات بيعي قباله: عبارت د هغه چاپ شوي رسمي سند




څخه ده، چې د هغه په واسطه مالك پر خپله ځمکه باندې د شرعي او قانوني سندونو پر بنسټ مالکانه تصرف ولري.
لاندې درې ډوله بات بیعي قبالې په محاکمو او ادارتو کې ثبت او اجرا کیږي چې عبارت دي له:
الف – د حقیقي شخص څخه بات بیعي قباله بل حقیقي شخص ته انتقال.
ب – د حقیقي شخص څخه بات بیعي قباله حکمي شخص ته انتقال.
ج – د حکمي شخص څخه بات بیعي قباله حقیقي شخص ته انتقال.

۲- د جایزې بیعی قباله ( قباله جایزی):
د ځینو فقهاؤ په فکر بیع جایزې د رهن (ګرو) حکم لري، نو د مبیعې څخه ګټه اخیستل هم باید د بایع له خوا ذکرشي، ترڅو اختلاف څخه خارج شي.
دویم جز:- قباله د ښار جوړولو او ځمکو وزارت کې لاندې ګټې لري:
۱: د نوي عصر سره د یو عصري مصؤن سیستم رامنځته کول.
۲- د مراجعینو لپاره د اسنادو په راټولولو کې اسانتیاوې برابرول.
۳– د مراجعینو په اړوند تخنیکي ریاستونو ته ژر رسیدګي کول.
۴- د عوایدو د زیاتوالي لامل به وګرځي، ځکه د قبالې د ترلاسه کولو لپاره به یو معین وخت په اړوند ولایت کې په نظر کې ونیول شي.
۵- د قبالې نوی سیستم چې د مخصوص کاغذ څخه استفاده کیږي، چې صکوک خاص نمبر ( امنیتي نمبر) لرونکی دی.
٦- ذکر شوې یوه تصویري قباله ده، چې د کوردینات درلودونکې ده.
۷- نوې قباله یو تخنیکي سیستم ده، چې په ډیر کم وخت کې د جعل او تذویر څخه یې مخنیوی شوی وي.



# پلان چهارچوب انکشاف ستراتیژیک مراکز ولایت‌های لغمان و هلمند

نویدالله نبی‌زاده

وزارت شهرسازی و اراضی به مثابه معتبرترین نهاد سکتور شهری؛ همواره زمینه تحقق پلان‌گذاری‌ها و پالیسی‌های انکشافی حکومت و تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه و انکشافی منتج به رشد اقتصادی و رفاه اجتماعی را در شهرهای کشور فراهم می‌کند. از این لحاظ وزارت شهرسازی و اراضی، بعد از تحول روی طرح و ترتیب پلان چهارچوب انکشاف ستراتیژیک شهر مهترلام مرکز ولایت لغمان و شهر گردیز مرکز ولایت هلمند کارش را آغاز کرد.

پلان چهارچوب انکشاف ستراتیژیک، به مثابه دیدگاه و نقشه راه ۲۰ ساله؛ ضمن تعیین مسیر انکشاف شهرها، تأثیرات مستقیم و قابل توجهی بر حیات اجتماعی و اقتصادی مردم خواهد داشت.

این پلان‌ها، شامل پنج بخش عمده انکشاف شهری، انعطاف پذیری شهری، فرهنگ و توریزم، اقتصاد زراعتی و معیشتی و حکومتداری و پلان‌گذاری می‌باشد.

در بخش انکشاف شهری؛ انکشاف شهرهای متراکم و دهلیزها، انکشاف پایدار و تحرک اقتصادی و اتصال ولسوالی‌ها با شهرها؛ در بخش انعطاف پذیری شهری؛ عرضه خدمات شهری، سرمایه گذاری بر زیربنا های پایدار، شهر برای همه (عرضه خدمات یکسان شهری) و تهیه مسکن قابل استطاعت در نظر گرفته می‌شود.

هم‌چنان بخش فرهنگ و توریزم بر تعیین هویت شهری، حفظ و انکشاف مناظر طبیعی و فرهنگی، بخش اقتصاد زراعتی و معیشتی بر تأمین ارتباطات

فرامرزی و تقویت ظرفیت لوژستیکی منطقه‌یی، سرمایه‌گذاری بر سکتورهای مختلف، انکشاف مارکیت‌ها، رشد اقتصادی، انکشاف زراعت و استخراج معادن متمرکز است.

هکذا در بخش حکومتداری و پلان‌گذاری بر موضوعات انکشاف اداری و توانمند ساختن شهروندان، افزایش عواید شاروالی‌ها از طریق منابع مالی پایدار، تقویت حکومتداری شهری، پلان‌گذاری و مدیریت زمین، ایجاد چهارچوب پایدار برای مدیریت منابع آبی و ترتیب چهارچوب تطبیقی پلان‌های انکشاف شهری پرداخته می‌شود.

بدیهی است که طرح و ترتیب پلان‌گذاری های ملی و شهری از وظایف کلیدی وزارت شهرسازی و اراضی بوده و رهبری این نهاد متعهد به انجام این مسولیت در راستای ایجاد فرصت‌های انکشاف متوازن و منظم شهرها در مرکز و ولایات می‌باشد.

البته به منظور گذار از وضعیت موجود و دستیابی به وضعیت مطلوب با نظرداشت ابعاد اجتماعی، اقتصادی، انکشافی و سایر مسایل مهم؛ ایجاب می‌نماید تا دیدگاه ها و نظریات مسلکی نهادها و متخصصین امور شهری، درج این پلان‌ها گردد.

انکشاف ساحات سبز، احداث و انکشاف پارک‌ها، احداث و انکشاف کمربندهای سبز، حفظ محیط زیست، حفظ ساحات تاریخی و سایر پروژه‌های رفاهی، اتصال منطقوی، ایجاد و انکشاف مارکیت‌ها، ترویج فعالیت‌های صنعتی، زراعتی و سایر فعالیت‌های تولیدی که موجب رشد اقتصادی، افزایش عواید ملی و ایجاد شغل برای هموطنان گردد؛ از بخش‌های مورد عطف این پلان‌ها در ابعاد اجتماعی، اقتصادی، انکشافی و محیط زیستی می‌باشد.






# د ښاري پلان جوړولو تاريخ او د لومړيو ښارونو جوړښت ته يوه لنډه کتنه

احمد جواد

ځيني څېړونکي؛ د انسان په ژوند کې لومړنی بنسټيز بدلون او د انسانانو په تعامل کې تر ټولو مهم ټولنيز تمايل د ښارونو جوړول ګڼل کېږي.

د ښاري جوړښت پروسه د انسان د ايکوسيستم پايله ده او انسانان خوراک او ارامه استوګنځايونو ته اړتيا لري چې کلونه وړاندې پيل شوي او د وخت د بېلا بېلو لګه اداري، اقتصادي، سياسي او ټولنيزو ځواکونو تر اغېز لاندې راغلي دي.

دغه استوګنځايونه چې په تاريخي لحاظ په مختلفو تاريخي دورو کې د انسانانو د ژوند اړتياوې پوره کړې، په بېلا بېلو شرايطو او جوړښتونو کې يې مختلف ښارونه جوړ شوي دي.

د ښار جوړېدل په حقيقت کې د بشر په تاريخ کې يو مهم پړاو ګڼل کېږي چې د انسان د ټولنيزې ودې او پرمختګ لپاره يې لاره برابره کړې او د انسان د تکامل په برخه کې يې ستر رول لوبولی دی.

په ټوله کې، په تاريخ کې د ښاري ټولنو ظهور د نئوليتيک يعنې عصري دورې پورې اړه لري، هغه دوره چې انسان د ښکار او خوراکي توکو راټولولو له پړاو څخه د ځمکې کارولو دورې ته لاړ او د ژوند سرچينې يې په يو ځايي اقتصاد او په بين النهرين ، مصر او هند کې د کليو په جوړولو پيل کړې.

تقريبا له دې وخت پنځه زره کاله مخکې ښاري ټولنو شتون درلود چې بېلا بېل وسايل، صنعت، سوداګری او مختلف ټولنيزې طبقې يې درلودې.

که څه هم ځینو د انسانانو اړیکې د لومړیو ښارونو رامنځته کېدل ګڼلي دي، خو د لومړنیو ښارونو په رامنځته کېدو کې تر ټولو مهمه مسئله په مناسبو او ارامو ځایونو کې د خوراک او ویده کېدو اړتیا ده، چې د استوګنې په مفهوم کې لنډه شوې ده.
له همدې امله ویلای شو چې ښار په حقیقت کې د خلکو د لومړنیو اړتیاوو او ارادې څرګندونکې دی. خو ځینې په دې باور دي چې ښارونه یوازې د اوسیدو، خوړلو او خوب کولو ځای نه، بلکې د ټولنپوهنې او ارواپوهنې له لارې ښارونه د انسانانو د بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو سربیره د دوی ټولنیزې، رواني او کلتوري اړتیاوې هم په پام کې نیسي.
له پخوانیو وختونو راهیسې ښارونه د انسانانو تر منځ د ملاقات او د ټولنیزو، کلتوري او اقتصادي تعاملاتو ځایونه دي چې د انسانانو د ګډ ژوند کولو چاپیریال یې برابر کړی دی.
د ساختماني او ښاري پلان جوړولو پروسې له مخې، په نړۍ کې لومړنیو ښارونو دېوالونه نه درلودل. یوه ودانۍ چې کیدای شي د کلا په نوم یادیږي د واکمن یا پاچا د استوګنې ځای و، چې معمولاً د هغې څنګ ته یو ډول معبد درلوده. دې لومړنۍ واکمن هم یو مذهبي دریځ درلوده. په دې لومړنۍ واکمن کې یو روحاني او سپیڅلی ځواک د پیاوړي فزیکي ځواک سره یو ځای شوی و. هغه څوک چې کولای شي طبیعي محدودیتونه مات کړي. په دې توګه د نړۍ په لومړیو ښارونو کې د حکومت او سیاست لومړۍ بڼه هم د همداسې یو شخصیت په بڼه راڅرګندیږي. اصلي کلا په تدریجي ډول عصري کیږي، او د کلا او معبدونو شاوخوا دیوال پېچلي وو او ښارونه د دې اصلي مرکز په شاوخوا کې جوړ شوي.
د ګوردن جایلډ په باور له شپږ زره کاله مخکې هغه دوره چې انسان په ګډه ژوند کوي، اوسپنه ترلاسه کوي، کرښې جوړوي، صنعت وده کوي او د انساني تمدن په اوږدو کې پیل کیږي او لوی ښارونه یو له بل سره جوړیږي، چې د ښاري دورې په نوم یادیږي.
همدارنګه لکه څنګه چې مو یادونه وکړه، د تمدن کلمه له مدینې څخه اخیستل شوې، چې په عربي کې د ښار په مانا ده، نو د لومړنیو تمدنونو له جوړښت سره نبغ په نېغه تړاو لري او ځینې پوهان په دې اند دي، چې د تاریخ په اوږدو کې د سترو تمدنونو رامنځته کېدل د تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوي دي.
ډاکټر ګلین دانیل د « د تمدنونو د اصلیت لرغون پېژندنه » په کتاب کې په سویلي بین‌النهرین ، مصر، د سند دره، په چین کې د ژیړ سیند، د مکزیک دره، د ګواتیمالا او هاندوراس ځنګلونه او همدارنګه د پیرو ساحلونو د لرغونو آثارو او اسناد پر بنسټ د لومړیو تمدنونو د رامنځته کېدو په تړاو ویلي چې له ښارونو وروسته رامنځته شوي دي.
ګلین دانیل لیکي: « د ښاري انقلاب د تحقق مهم عامل د اضافي خوراکي توکو تولید و، تر دې حده چې معلومه ده دا ډول کار د لومړي ځل لپاره د دجلې او فرات په غرنیو سیمو کې شوني و.» له همدې امله، یو له لومړنیو ښارونو څخه چې په ښاري دوره کې د ځېرونکو د موندنو پر بنسټ جوړ شوی اریحا ښار دی، چې د اردن سیند په لویدیځه غاړه کې موقعیت لري.
د لرغون پېژندنې د موندنو له مخې په اتمه پېړۍ کې انسانان چې د ژوند چارې یې د ښکار له لارې برابرولې، له غرونو څخه د اریحا دښتې ته راښکته شول او هلته مېشت شول څکه چې اریحا د اردن په سیند تسلط درلود او اوبه یې ډېرې وې، نو هلته یې د اوسېدو مناسب ځای وموند او په دې توګه لومړۍ ټولنیز ژوند هم هلته رامنځته شو. دې لومړنیو اوسیدونکو د ورځې په اوږدو کې ښکار کاوه او شپه یې د ځمکې لاندې سوریو کې تیروله.

حمید رضا عامري په خپل د ښار جوړولو او د ښار تاریخ کتاب کې د اریحا ښار په اړه لیکي: د اریحا په ساحه کې یو کوچنی کلی و، دا کلی د لرغونی نیولیتیک دورې پورې اړه درلوده چې له میلاد څخه شاوخوا ۸۰۰۰ کاله مخکې جوړ شوی و او یو حیرانونکی بدلون سره رامنځته شوی و څکه چې په دې ښار کې په ګردي ډول یا بیضوي ډبرو پر بنسټ یا تهداب د خښتو کورونه جوړ شوي وو.

دا په دې ښار کې و چې د ښاریانو د ساتنې لپاره لومړی کلاګانې، برجونه او نورې د ډبرو کلاګانې جوړې شوې، او ځینې کوڅې یو ځای له بل سره ونښلول شوې او ځینې مدني قوانین د اریحا خلکو ته رامنځته شول.

د ځینو پوهانو په وینا، له میلاد ۷۰۰۰ کاله مخکې اریحا د نړۍ تر ټولو لوی ښار و چې شاوخوا ۲۰۰۰ وګړي یې درلودل.

په عتیقه دوره کې د یهودانو په یو کتاب کې دې ښار ته د خرما د ونو ښار هم ویل کېده.

لوی هروډوټ د اریحا ښار له نیولو وروسته دغه ښار بیا جوړ او پراخ کړ، او د ابو العلیق غونډیو تر عین السلطان ته یې وغځاوه. د هروډوټ په وخت کې په اریحا ښار کې جوړو شوو ودانیو کې مانۍ، باغونه، چوکونه، او د اوبو حوضونه وو چې یو له بل وروسته جوړ شوي او د نړۍ د لومړي ښار بڼه یې بدله کړه.

نوموړي د ښار د ملاتړ او دفاع لپاره، د اریحا په سویلي برخه کې یوه کلا او نور دفاعي ځایونه جوړ کړل، خو له دې سره سره، اریحا په وروسته وختونو کې ویجاړ شو او له کنډوالو پرته بل څه پاتې نه شول.

له هغې وروسته، رومیانو هم د اریحا ښار په بیارغونه او عصري کولو کې او د القلط وادي په سیمه کې چې د اریحا اوسنی موقعیت دی، لوی رول لوبولی. د لوی قسطنطینه د واکمنی پر مهال (۳۲۷۳۰۶ م) په اریحا کې د عیسویت له خپرېدو سره د دې ښار شاوخوا هدیرې او کلیساګانې جوړې شوې، چې نښې یې لا هم پاتې دي.

د بیزانس په دورې کې، اریحا نور پرمختګ وکړ چې په اوومه پیړۍ کې یې د فلسطین فتحې وروسته اعرابو اریحا یې د فلسطین د رمله برخه جوړه کړه

اریحا ښار هم ډېر ښکلي تاریخي ځایونه لري چې هر کال د ټولې نړۍ څخه ډېری سیلانیان د دې لرغوني سیمې لیدو لپاره سفر کوي.




سرچینه:

۱. عامری، حمید رضا، تاریخ شهرسازی در جهان، پیام نور پوهنتون خپرونکي.

۲. مرادی، افضل، تاریخ پیدایش شهر، د رشد ویب پاڼه.

۳. فاتحی نژاد، عنایت الله، پیشینه تاریخی شهر اریحا.

٤. بهنود، بهاره، په نړۍ کې د ښارونو او ښاري کېدو تاریخ.

# خصوصیات و پیشرفت کار در پروژه رهایشی پیروزی



عزیزالله فروغی

وزارت شهرسازی و اراضی به منظور جلوگیری ز تراکم نفوس، حفظ محیط زیست، رفع مشکلات سرپناه مردم در شهر کابل و ایجاد اشتغال برای مردم به مساحت ۸٦٦۵ جریب زمین را در ۳۰ کیلو میتری شمال شرق کابل، در ساحه ولسوالی ده سبز، بنام پروژه رهایشی پیروزی احداث نموده است.

ماسترپلان پروژه پیروزی نهایی گردیده و پلان‌های تفصیلی این پروژه با خصوصیات است که با شرایط اسلامی و نورم‌های ملی مطابقت داشته و هم‌چنان ویژگی‌های چون: ۹۱۳۰ نمره رهایشی حویلی دار، ۴۴۹ بلاک بلند منزل رهایشی و تجارتی، پارک‌های صنعتی، پارک‌های سبز و تفریحی، پوهنتون‌ها، مکاتب، شفاخانه‌ها، کلینیک‌ها و سایر خدمات عام‌المنفعه با تسهیلات لازم با گنجایش حدود ۱٦۰ هزار جمعیت، به نورم‌های شهرسازی و انجنیری در نظر گرفته شده است.

**پیشرفت کار زیربناهای پروژه:**

کار ساخت و ساز زیربناها از قبیل پخته کاری سرک‌های عمومی و فرعی، شبکات آبرسانی، کانالیزاسیون، برق، در حدود ۳۵ درصد در پروژه تطبیق گردیده و به خاطر دسترسی به برق، پایه‌های برق به قیمت ارزان نسبت به بازار، دستگاه تولید پایه‌ها نیز فعال گردیده است.

**احداث سبزخانه:**

هم‌چنین ۱۰ باب سبزخانه، به ظرفیت کشت و تولید بیش از یک میلیون نهال مثمر و غیر مثمر به هدف سرسبزی پروژه متذکره و دیگر نقاط شهر کابل نیزاحداث گردیده است. با این حال تصمیم بر این است که تولید نهال‌ها در سبزخانه‌ها بر علاوه رفع نیازمندی ساحات سبز و محل تفریحگاه‌ها و سایر ساحات سبز پروژه، در بازار نیز عرضه شده و از این رهگذر عواید خوبی به حساب دولت واریز می‌گردد.

**احداث خانه‌های نمونه‌ای:**

وزارت شهرسازی و اراضی به منظور جلب توجه مشتریان نیازمند به خانه‌های قابل استطاعت، به تعداد ۱۸ باب خانه‌های نمونه‌ای را در شهرک پیروزی روی دست گرفته که به تعداد سه باب آن تکمیل و قابل استفاده می‌باشد و متباقی تحت کار قرار دارد.

**توجه سرپرست وزارت شهرسازی واراضی به پروژه پیروزی:**

اخیراً محترم مولوی الحاج حمد الله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی با شماری از رؤسا و مسولان پروژه، معاونین شرکت‌های ساختمانی و تولیدی ملاقات کرده و درپیوند به زمینه‌سازی سرمایه‌گذاری در کشور و تقویه بنیه مالی امارت اسلامی افغانستان در پارک‌های صنعتی پروژه پیروزی صحبت نموده، خواهان سرمایه‌گذاری توسط آن شرکت‌ها گردیده است با این حال رییس شرکت‌ها در زمینه به خاطر احداث ۱۵۰ فابریکه تولیدی کوچک و بزرگ در ساحه متذکره ابراز آمادگی نموده اند.

هم‌چنین محترم نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی به منظور حل مشکلات سرپناه برای هموطنان نیازمند و تشویق سرمایه‌گذاری تجار ملی و سکتور خصوصی و رشد اقتصاد ملی به خاطر اعمار خانه‌های قابل استطاعت در پروژه رهایشی پیروزی با یک تعداد نماینده‌های شرکت‌های ساختمانی ملاقات نموده و از سهولت‌های لازم برای سرمایه‌گذاران و تجار ملی در کشور اطمینان داده است.

درهمین حال نماینده‌های شرکت‌ها ضمن بازدید از ساحه پروژه پیروزی آمادگی خویش را برای اعمار هزاران واحد مسکونی پیش‌ساخت قابل استطاعت با مشارکت وزارت شهرسازی و اراضی اطمینان دادند که از آن جمله یک شرکت چینایی آماده سرمایه‌گذاری دراین شهرک شده و براساس گفتگوهای صورت گرفته میان وزارت شهرسازی و اراضی و شرکت چینایی قرار است به زودی قرارداد میان وزارت شهرسازی و اراضی و شرکت متذکره امضاء و آن شرکت کار خود را رسما آغاز نماید.

این پروژه با خصوصیات که در متن تذکر رفت، با توجه وزیر محترم شهرسازی و اراضی رونق گرفته و به زودی چگونگی فروش خانه‌های ساخته شده و هم‌چنان نمره‌های رهایشی که مطابق به نقشه و کیفیت کاری پلان شده آماده می‌گردد و در نظر است که با هزینه کم ساخته شود تا شهروندان کم درآمد بتوانند صاحب مسکن شوند.





دافغانستان اسلامي امارت

Ministry of Urban Development and Land
د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی



# ENKESHAF SHAHR

**Issue No. 51**

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت - وزارت شهرسازی و اراضی
/MUDL_AFG
/MUDL_AFG

www.mudl.gov.af